NYIC

Updated- 12/12/2025

NEW YORK STATE | Department of State
Office for New Americans

## 🚨ستاسو د کډوالۍ حالت چې هر ډول وي، مشخص حقونه لرئ

- ✅ د چوپ پاتې کېدو حق
- ✅ د تلاشي د نه منلو حق
- ✅ دا حق چې له لاسلیک کولو مخکې له یو وکیل سره خبرې وکړئ
- ✅ د دې پوښتنې حق چې ایا هغه ځایه د وتلو حق لرئ کنه
- ✅ دا حق چې خپل عامه تعاملات ثبت کړئ
- ✅ دا حق چې د «ایا ته د امریکا تبعه یې؟» پوښتنې ځواب ورنه‌کړئ
- ✅ دا حق چې د خپل اصلي هېواد ته له ستنېدو وېره ښکاره کړئ

## اسناد: کوم اسناد له ځان سره وګرځوئ او کوم ونه ګرځوئ

✔

- د کډوالۍ د اسنادو کاپي (لکه ګرین کارت، د کار جواز، یا ویزه) – خو دا اسناد بې غوښتنې مه وړاندې کوئ!
- د امریکا لخوا ورکړل شوی د موټر چلولو جواز یا پېژندپاڼه، هغه چې د زېږېدو هېواد یا د کډوالۍ حالت پکې نه وي لیکل شوی (لکه د NYC پېژندپاڼه یا د زده‌کوونکي پېژندپاڼه).
- د «خپل حقونه وپېژنئ/Know Your Rights» کارت.
- دا ثبوت چې تاسو له دوو کلونو زيات وخت راهیسې په امریکا کې اوسېږئ (د دې ثبوت لرل کېدای شي د محکمې له حکم پرته ستاسو د چټک اخراج یا ډیپورټ کولو مخه ونیسي).

❌

- جعلي اسناد یا جعلي پېژندپاڼه.
- هر هغه سند چې پکې لیکل شوي وي «تاسو د امریکا تبعه یاست»؛ خو په حقیقت کې نه وئ.
- د خپل اصلي هېواد پېژندپاڼې یا د هویت اسناد.




💡**خپل اصلي اسناد لکه A# او پاسپورټ په یو خوندي ځای کې وساتئ. دا اسناد له ځان سره مه ګرځوئ.**

📱**خپل موبایل تلیفون هېڅکله قانون پلي کوونکو افسرانو ته مه ورکوئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو تلیفون د پاسورډ په وسیله خوندي شوی وي، او د مخ پېژندنې (Face Recognition) یا د ګوتې د نښې (Fingerprint) له لارې نه خلاصیږي.**

.دا سرچینه وروستی ځل د اپریل په ۱۳، ۲۰۲۵ کې تازه شوې وه. دا سرچینه ستاسو د حقونو په پوهیدو کې د مرستې لپاره عمومي معلومات چمتو کوي، مګر قانوني مشوره نه ده
.هر وضعیت توپیر لري؛ که تاسو د خپلې ځانګړې قضیې لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د باوري وکیل یا قانوني خدماتو چمتو کونکي سره مشوره وکړئ

NYIC

NEW YORK STATE | Department of State Office for New Americans

# 👮‍♂️ د امنيتي ځواکونو ډولونه

## پولیس

پیولیس د کډوالۍ چارو مسؤل نه دي؛ هغوی د عامه امنیت او جرمونو د حل مسؤلیت لري.
په ځینو سیمو کې –د سیمې پالیسۍ ته او ICE په کتو- کېدای شي پولیس له CBP سره همکاري ولري.
.




## (ICE)


آبي یا تور یونیفورم لري.
ډېر وخت سئ پر شا «ICE»، «HSI» یا «DHS» لیکل شوي وي. هغه کسان لټوي او نیسي چې په امریکا کې له قانوني جواز پرته اوسېږي. د ICE افسران اوس ډېری وخت په ملکي جامو کې هم لیدل کېږي.
.




## د ګمرک او د پولو ساتنې اداره (CBP)

شین یونیفورم اغوندي.
د امریکا په هوایي ډګرونو، بندرونو، او له ځمکنۍ پولې څخه د 100 مېلو دننه د خلکو د داخلېدو څارنه او اداره کوي.




## 👦⚖️قضايي حکم

افسرانو ته دا اجازه ورکوي چې هغو ICE قضايي حکم هغه د محکمې امر دی چې د ځایونو ته ننوځي او تلاشي واخلي چې عموماً له اجازې پرته ورته د ننوتلو حق نه لري؛ لکه شخصي کور، د کار شخصي دفتر یا عبادتځای (لکه کلیسا). قضايي حکم باید یو سند وړاندې کوي ICE حتماً د یوه قاضي له خوا لاسلیک شوی وي! ځینې وختونه خپل سند دی، د قاضي له خوا نه ICE چې «د بهرنې د نیولو حکم» نومېږي. دا سند د وي لاسلیک شوی، او د محکمې رسمي حکم نه ګڼل کېږي. تاسو هېڅ مکلفیت نه لرئ چې یوازې د دغه سند پر بنسټ هغوی ته اجازه ورکړئ چې کور ته مو ننوځي. که سره د قاضي له خوا لاسلیک شوی قضايي حکم نه وي، شخصي ځایونو ته د ICE له ننوتلو حق نه لري.

## د ځایونو ډولونه

### ⛪عامه ځایونه

- د اپارتمان دهلېزونه
- د ښوونځي ودانۍ، کلیساګانې
- کارځای

✅ کولای شي د دغو ځایونو هغو برخو ICE ته داخل شي چې عامو خلکو ته پرانیستې وي.
❌ خو د هغو برخو لپاره چې د عامو خلکو پر مخ تړلې دي، د ICE افسران باید یا د قاضي له خوا لاسلیک شوی حکم ولري، یا د ننوتلو لپاره د ځای د مدیر/مالک اجازه ورسره وي.

### 🏡خصوصي ځایونه

- ستاسو کور
- تړلی اپارتمان
- خصوصي دفتر

❌ د ICE افسران نه شي کولای بې له قضايي حکم (چې د قاضي له خوا لاسلیک شوی وي) یا د اوسېدونکي له اجازې پرته دننه شي.
❌ تاسو حق لرئ چې دروازه خلاصه نه افسران دغه ICE کړئ، تر څو چې د ډول رسمي حکم ونه ښيي..

### 🏙️عامه ځایونه

- پارکونه
- سړکونه
- پیاده‌رو

✅ افسران کولای شي پرته له اجازې د ICE په دغو ځایونو کې موجود وي.
✅ افسران کولی شي خلکو ته د ICE ورنږدې شي او پوښتنې ترې وکړي. خو تاسو لا هم حقونه لرئ! تاسو مکلف نه یاست.

.دا سرچینه وروستی ځل د اپریل په ۱۳، ۲۰۲۵ کې تازه شوې وه. دا سرچینه ستاسو د حقونو په پوهیدو کې د مرستې لپاره عمومي معلومات چمتو کوي، مګر قانوني مشوره نه ده
.هر وضعیت توپیر لري؛ که تاسو د خپلې ځانګړې قضیې لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د باوري وکیل یا قانوني خدماتو چمتو کونکي سره مشوره وکړئ

Updated- 12/12/2025

NYIC

NEW YORK STATE | Department of State Office for New Americans

## 👮‍♂️ د ICE له افسرانو سره د تعامل څرنګوالی

:مامورین یا افسران قانوناً کولای شي دروغ ووايي یا تاسو مغشوش کړي. کېدای شي داسې خبرې وکړي ICE په یاد ولرئ: د
».موږ یوازې یوه عادي تلاشي کوو«
».موږ د یوه جرم پلټنه کوو او باید له تاسو سره خبرې وکړو«
».تاسو مکلف یئ چې دروازه خلاصه کړئ«

- ✅ .تاسو باید خپل د چوپ پاتې کېدو حق په یاد ولرئ
- ✅ .تل کولای شئ له هغوی وغواړئ چې خپل رسمي اسناد او شواهد وښيي
- ✅ .تاسو دا حق لرئ چې د قانون پلي کوونکو افسرانو تعاملات ثبت (ویډیو یا آډیو) کړئ
- ✅ که تاسو ونیول شئ او د خپل اصلي هېواد ته د ستنېدو وېره لرئ، نو دا وېره په ښکاره ډول څرګنده کړئ؛ ځکه دا کار کېدای شي .له محکمې پرته ستاسو د اخراج مخه ونیسي؛ حتی که تاسو په امریکا کې له دوو کلونو څخه کم وخت اوسېدلی یئ

## 🏡 په کور کې

- ✅ دروازه مه خلاصوئ. له هغوی وغواړئ چې که قضايي حکم لري (د قاضي له خوا لاسلیک شوی)، هغه دې تر دروازې لاندې .درکړي یا یې د دروازې له پرانیستلو پرته دروښيي
- ✅ .د ننوتلو یا د تلاشي اجازه مه ورکوئ
- ✅ ».بې له قضايي حکم څخه کور ته داخل شي، ووایئ: «زه ستاسو له ننوتلو سره رضایت نه لرم ICE که

## 💼 په کارځای کې

- ✅ .کولای شي د ودانۍ عامو برخو ته ننوځي (لکه د ودانۍ عمومي صالون یا لابي) ICE
- ✅ خو د شخصي برخو (لکه پخلنځي، دفتر، او داسې نورو) لپاره باید د قاضي له خوا لاسلیک شوی حکم یا د کارګمارونکي اجازه .ولري تر څو ورننوځي

## 🌃 په عامه ځایونو کې

- ✅ .ارام پاتې شئ او منډه مه وهئ
- ✅ .تاسو مکلف نه یاست چې پوښتنو ته ځواب ورکړئ یا پېژندپاڼه وښيئ
- ✅ .وپوښتئ: «زه تللی شم؟» دا پوښتنه تکرار کړئ تر څو ځواب واورئ. که ځواب «هو» وي، په ارامۍ سره لاړ شئ
- ✅ کولای شئ ووایئ: «زه نه غواړم ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړم» یا «زه د تلاشي اجازه نه درکوم.» خپل د چوپ پاتې کېدو حق په .یاد ولرئ

## 🚗 د ترافیکي درولو پر مهال

- ✅ .که تاسو موټر چلوی، نو باید خپل د موټر چلولو جواز، د موټر د ثبت سند او بیمه وښيئ
- ✅ .سپرلۍ مکلفې نه دي چې پېژندپاڼه وښيي یا پوښتنو ته ځواب ورکړي
- ✅ پولیس کولای شي یوازې د وسلو د لټون لپاره موټر وپلټي، خو د نورو تلاشیو لپاره باید یا ستاسو رضا ولري یا قانوني دلیل .ورسره وي
- ✅ ».تاسو کولای شئ تلاشي رد کړئ او ووایئ: «زه د تلاشي اجازه نه درکوم

.دا سرچینه وروستی ځل د اپریل په ۱۳، ۲۰۲۵ کې تازه شوې وه. دا سرچینه ستاسو د حقونو په پوهېدو کې د مرستې لپاره عمومي معلومات چمتو کوي، مګر قانوني مشوره نه ده
.هر وضعیت توپیر لري؛ که تاسو د خپلې ځانګړې قضیې لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د باوري وکیل یا قانوني خدماتو چمتو کونکي سره مشوره وکړئ

NYIC

Updated- 12/12/2025

NEW YORK STATE | Department of State
Office for New Americans

## ⚖️جنايي حقوقي نظام

- ✅.جنايي تورونه کولای شي ستاسو پر کډوالۍ حالت اغېزه وکړي
- ✅.هېڅکله د وکيل له قانوني مشورې پرته د «ګناه منلو» اعتراف مه کوئ
- ✅.که تاسو د يو جرم په تور نيول شوي ياست، له دوه ډوله وکيلانو سره مشوره وکړئ: يو د جنايي دفاع وکيل او بل د کډوالۍ وکيل
- ❌حتی کوچني جرمونه لکه له دوکان څخه غلا، د تېرېدو (له ټکټ پرته) له موانعو ټوپ وهل، يا د ترافيک سرغړونې کولای شي د توقيف سبب شي.
- ❌که څه هم په ځينو ايالتونو کې د چرسو استعمال قانوني دی، خو د فدرالي قانون له مخې لا هم غيرقانوني دی؛ نو د چرسو لرل هم کولای شي د نيول کېدو يا توقيف لامل شي.

## 💪 تل چمتو اوسئ

- ✅.يادونه وکړئ #A د تليفون د اړينو شمېرو او خپل
- ✅.خپل مهم اسناد په خوندي ځای کې وساتئ
- ✅.د بيړني حالت او کورنۍ لپاره يو پلان جوړ کړئ
- ✅له تصديق‌لرونکو استازو سره خبرې (د عدليې وزارت) DOJ له درغليو څخه ځان وساتئ: يوازې له جوازلرونکو وکيلانو يا د وکړئ. په ياد ولرئ: په امريکا کې د نوټرۍ يا د اسنادو دفتر کارکوونکي هرو مرو وکيلان نه دي!

## ℹ️سرچينې او مرسته

- د نوو امريکايانو د دفتر تليفوني کرښه: 7636-566-800-1 (NYS) د نيويارک ايالت
- د کډوالۍ د درغليو د راپور ورکولو لپاره: 7636-566-800-1
- د کرکې پر بنسټ د جرمونو د راپور ورکولو لپاره: 3644-392-888-1
- .د 52886 شمېرې ته ولېږئ INFONY د سرچينو لپاره په پيغام کې
- نور معلومات: nyic.org/KYR
- :تر توقيف لاندې وي ICE که غواړئ يو څوک ومومئ چې د
  د توقيف‌شوو کسانو د لټون وېب‌پاڼې ته لاړ شئ: locator.ice.gov د ICE نمبر (9 عدده شمېره) او د زېږېدو هېواد دننه کړئ، يا د هغه بشپړ A د هغه کس نوم، د زېږېدو هېواد او د زېږېدو نېټه وليکئ.
  سيمه‌ييز دفتر يا ICE که نوم يې په سيستم کې ونه‌نبودل شي، نو له نږدې توقيف‌ځای سره اړيکه ونيسئ: ice.gov/contact/field-offices

يو دوه‌مخيز کارت دی چې ستاسو حقونه پکې ليکل شوي؛ کولای شئ دا د قانون د پلي کوونکو افسرانو ته ونښيئ څو خپل حقونه وساتئ؛ ان که په انګليسي خبرې نه شئ کولی.

.دا سرچينه وروستی ځل د اپريل په ۱۳، ۲۰۲۵ کې تازه شوې وه. دا سرچينه ستاسو د حقونو په پوهيدو کې د مرستې لپاره عمومي معلومات چمتو کوي، مګر قانوني مشوره نه ده
.هر وضعيت توپير لري؛ که تاسو د خپلې ځانګړې قضيې لپاره مرستې ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ د باوري وکيل يا قانوني خدماتو چمتو کونکي سره مشوره وکړئ